Australian Government
Services Australia

PASHTO

# د خپل ملاتړي عاید تادیاتو د ترلاسه کولو لپاره تاسو څه کولو ته اړتیا لرئ

ډیر کار غوښتونکي اجباري دندې او فعالیتونه لري چې دوی باید د دوی د ملاتړي عاید تادیه د ترلاسه کولو لپاره ترسره کړي. د دې تادیاتو ځینې مثالونه د JobSeeker Payment، د کار غوښتونکو لپاره دYouth Allowance یا د Parenting Payment دي.

د خپل ملاتړي عاید تادیاتو د ترلاسه کولو لپاره تاسو باید دا ټول ترسره کړئ:

- ستاسو د کار پلان یا د ګډون کولو پلان کې ټولې اړتیاوې پوره کړئ
- خپل عاید په هرو 2 اونیو کې Centrelink ته راپور کړئ، حتی که دا 0 وی
- موږ ته وواياست کله چې ستاسو شرایط کې بدلون راشي

دا اړتیاوې تاسو سره د دندې موندلو او ستاسو مهارتونو ته په وده ورکولو کې مرسته کوي. موږ دېته دوه اړخیزو مکلفیتونو اړتیاوي وایو، که ستاسو د کارموندنې خدماتو چمتو کونکی له لاندې څخه یو وي:

- Workforce Australia
- Community Development Program
- په ځینو مواردو کې، Centrelink.

موږ دېته د ګډون اړتیاووي وایو که ستاسو د کارموندنې خدماتو چمتو کونکی له دې څخه یو وي:

- Disability Employment Services
- ParentsNext.

ستاسو د اړتیاوو د یوې برخې په توګه تاسو باید د کار پلان یا د ګډون کولو پلان سره موافق اوسي. تاسو به دا پلان د خپل چمتو کونکي سره ترسره کوئ.

کله چې تاسو د کار پلان یا د ګډون پلان لرئ او نشئ کولی په یو اپوینتمنت کې ګډون وکړئ یا خپلې اړتیاوې پوره کړئ، تاسو اړ یاست مخکې له مخکې خپل چمتو کونکي سره اړیکه ونیسئ.

که ستاسو د کار پلان د Centrelink سره وي او تاسو نشئ کولی په یو اپوینتمنت کې ګډون وکړئ یا خپلې اړتیاوې پوره کړئ، تاسو باید د وخت څخه مخکې موږ ته خبر راکړئ. تاسو کولی شئ دا موږ ته د خپل منظم تادیه کرښې له لارې په زنګ وهلو سره ترسره کړئ.

که تاسو خپلو اپوینتمنتونو ته لاړ نه شئ یا خپلې اړتیاوې پوره نه کړئ، ممکن ستاسو تادیه ودرول شي او تاسو ممکن جریمه ترلاسه کړئ. که دا پیښ شي نو تاسو باید د خپل چمتو کونکي سره خبرې وکړئ.

که تاسو Workforce Australia ته راجع شوي یاست، تاسو باید هره میاشت مشخصي شمیري (پوینتونه) ترلاسه کړئ ترڅو ستاسو اړتیاوې پوره کړي. تاسو پوینتونه ترلاسه کوئ کله چې تاسو فعالیتونه بشپړ کړئ لکه د دندو لپاره غوښتنلیک، اپوینتمنتو ته تلل یا روزنې (تریننګ) ته تلل.

که تاسو هره میاشت د اړتیا وړ پوینتونه ته ونه رسیږئ، ستاسو تادیه ممکن بنده شي. مهرباني وکړئ خپل Workforce Australia د کارموندنې خدماتو چمتو کونکي ته زنګ ووهئ که چیرې دا پیښ شي.

که تاسو د Workforce Australia Online سره یاست، تاسو کولی شئ د Digital Services Contact Centre ته په **1800 314 677** زنګ ووهئ. تاسو کولی شئ د یو چا سره په خپله ژبه د خبرو کولو غوښتنه وکړئ.

تاسو اړتیا نلرئ چې هره میاشت ټاکلی پوینتونه ترلاسه کړئ که تاسو د Community Development Program، د Disabilty Employment Services یا ParentsNext سره یاست.

تاسو کولی شئ نور مالومات دلته ومومئ:

- **servicesaustralia.gov.au**
- **workforceaustralia.gov.au**

په خپله ژبه کې د مالوماتو لپاره تاسو کولی شئ موږ ته په **131 202** زنګ ووهئ یا **servicesaustralia.gov.au/yourlanguage** ته مراجعه وکړي.

Australian Government
Services Australia

ENGLISH

# What you need to do to keep getting your income support payment

Most job seekers have compulsory tasks and activities they must do to get their income support payment. Some examples of these payments are JobSeeker Payment, Youth Allowance for job seekers or Parenting Payment.

To keep getting your income support payment you need to do all of these:

- meet all of the requirements in your Job Plan or Participation Plan
- report your income to Centrelink every 2 weeks, even it is 0
- tell us when your circumstances change

These requirements are to help you find a job and improve your skills. We call these mutual obligation requirements if your employment services provider is one of the following:

- Workforce Australia
- Community Development Program
- in some cases, Centrelink.

We call these participation requirements if your employment services provider is either of these:

- Disability Employment Services
- ParentsNext.

As part of your requirements you must agree to a either Job Plan or Participation Plan. You will do this Plan with your provider.

When you have a Job Plan or Participation Plan and cannot attend an appointment or meet your requirements, you need to contact your provider ahead of time.

If your Job Plan is with Centrelink and you cannot attend an appointment or meet your requirements, you need to let us know ahead of time. You can do this by calling us on your regular payment line.

If you do not go to appointments or meet your requirements, your payment may stop and you may get a penalty. If this happens you must talk to your provider.

If you are referred to Workforce Australia, you must achieve a certain number of points each month to meet your requirements. You get points when you complete activities like applying for jobs, going to appointments or training.

If you do not reach the number of points you need each month, your payment may stop. Please call your Workforce Australia employment services provider if this happens.

If you are with Workforce Australia Online, you can call the Digital Services Contact Centre on **1800 314 677**. You can ask to speak to someone in your language.

You do not need to achieve a certain number of points each month if you are in the Community Development Program, Disabilty Employment Services or ParentsNext.

You can find more information at:

- **servicesaustralia.gov.au**
- **workforceaustralia.gov.au**

For information in your language you can call us on **131 202** or go to **servicesaustralia.gov.au/yourlanguage**